# كله به چې رسول الله صلى الله عليه وسلم حاجت رفع كولو ته ننوتلو نو وېيل به يې: «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الخُبُثِ وَالخَبَائِثِ». «اې الله! زه پر تا له نارينه او ښځينه شيطانانو څخه پناه نيسم

له انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: كله به چې رسول الله صلى الله عليه وسلم حاجت رفع كولو ته ننوتلو نو وېيل به يې: «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الخُبُثِ وَالخَبَائِثِ». «اې الله! زه پر تا له نارينه او ښځينه شيطانانو څخه پناه نيسم».
[صحيح دی] [متفق عليه دی]

كله به چې رسول الله صلى الله عليه وسلم غوښتل هغه ځای ته ننوځي چې حاجت به يې پكې رفع كاوه، يعني تشې يا ډكې متيازې به يې كولې، نو په الله تعالى به يې پناه غوښتله تر څو يې د نرانو او ښځينه شيطانانو له شر څخه وساتي. او د: (الخبث والخبائث) تفسير په شر او پليتيو هم شوی دی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3150